عرفان الله « بيدار »
د نشر نيټه : ۱۸ جولاى ۲۰۱۳ ميلادى

# دختيځ ادبي بهير غړو ځپله ۵۱ ناسته ترسره کړه

دختيځ ادبي بهير ملګرو د روان ۱۳۹۲ ه کال د سرطان په ۲۷ مه نيټه خپله اونيزه ناسته بيا هم دننګرهار اړوند د ميدوتيک انګړ کي وکړه.

ياده ناسته چي مشري يي بازمحمد عابد کوله کوربه يي عزت الله ځواب و او ددريځ چاري احمد جمال جمال سره وى. دمحمود خزان له خوا دقران کريم په څو مبارکو اياتونو شروع شوه د تيري ناستي راپور عرفان الله بيدار اولوست.

په راپور د ارزوني پيل عزت الله ځواب وکړ، ځواب وويل بيدار دمخکي نه ګزارش ډير ښه کړى، خو وخت لا پاتي دى چي بيدار دي ښه ګزارش ليکونکى شي. صيام دين پسرلي ګزارش او روان وبللو خو دګزارش په وخت نه ليکل يي جدي ستونزه وبلله.

بازمحمد عابد وويل : ګزارش که په وخت وليکل شي ډيرې ښيګڼي دځان سره لري ترکومه بريده چي زه خبر يم په ختيځ ادبي بهير مونوګراپ ليکل شوى، مونوګراپ ليکونکي ټول معلومات له ګزارشونو اخستي .عابد زياته کړه ګزارش ليکل بهير لپاره ډير اهميت لري. عابد وويل ګزارش کي زکر شوي و، چي عابد دځينو خبرو سره موفق نه و پکار وه، چي يوه بيلګه يي وړاندي شوى وى.

ددي تر څنګ دنعمان دوست ادبي درس کې د کيسي شاليد تم شوى په داسي حال کي چي هغه دکيسې ضمني برخه وه ددرس اصلي برخه دنوې کيسي اړونه و، پکار وه چي په دي برخه ډير فوکس شوى وى .

دارزوني وروسته دکره کتني برخه شروع شوه. دکره کتني لپاره محمد جان خقيقت خپل غزل کره کتني ته وړاندي کړ، چي مطلعه يي وه :

نور بى حوصلي شوم دا دنيا دغمو ډکه ده

چيرته لاړ شم څه وکړم لاره رانه ورکه ده

عبدالعزيز شجاع وويل دي ته ورته غزل مي مخکي اوريدلی چي داسي دی زړه مي تور شو دي دنيا نه چيرته لاړ شم څه وکړم ستړي شوم دغم ژړا نه چيرته لاړ شم ، خو عزت الله ځواب وويل مطلعه ساده او روانه ده او پورته غزل سره هيڅ تړاو نه لري.

وياند لومړی بيت ولوست چي داسي و:

دا زما ګناه ده چي افغان يمه پښتون يمه

غم کي را ايسار يمه ناتوان يم جګرخون يمه

څوک مو په يو نوم په بل نوم وژني وينه مو سپکه ده

ځواب وويل زما په نظر دغزل فورم اولسي غزل ته ورته دی نومړي په ياد بيت کي ځني دري لغاتونو ته په اشاري سره وويل بايد شاعر کوشش وکړي، چي پښتو کليمو نه کار واخلي. عابد بيا وويل چي زه ورته غزل نه سندره وايم نو پکار ده چي دسندري دلوستلو وروسته پري خبري وشي.

ويالد نور بيتونه داسي ولوستل:

داچي مو دخپل پلار او نيکه مزار ته نه پرېږدي

دوي مو درحمان اوخوشحال خان دربار ته نه پرېږدي

دوی لا خبر نه دي چي مو خاوره تر اټکه ده

دا چي ځلور خوا ته مو اورونه دي راګير يو

نشو تري وتلی ډير غمونه دي راګير يو

وجه دنفاق ده وروروولي زمونږ نازکه ده

داوطن ميرويس غواړي او هغه احمد خان غواړي

ګوره حقيقته دا هم هغه امان خان غواړي

سر چي په وطن ږدي دافغان بچی بي شکه ده

همت مل هم دځني تکراري جملو راوړل ناسم وبلل، خو ځواب بيا د غزل ځني برخو ته په اشاري سره وويل چي دوه بيتونو کي نصيحت کړی پکار ده چي شعر کي نصيحت او نه شي په ټوله کي عابد په غزل خبري وکړي. نومړي وويل چي ياد فورم ځواب اولسي ياد کړو خو زه يي سندره ګڼم دا فورم زما لپاره نوی دی ځکه تر اوسه ما داسي غزل نه دی ليکلی.

دارزوني وروسته دغزل ښتن دريځ ته وبلل شو نومړي دټولو بهيروالو مننه وکړه چي په غزل يي ورته مشوري ورکړي.

دکره کتني وروسته يوه ازاده مشاعره وشوه چي لسګونه تنو په کي خپل شعرونه وويل.

دمشاعري وروسته دغونډي ارزونه عابد وکړه عابد په ټوله کي غونډه ښه وارزوله او زياته يي کړه مونږ به چي کله مخکي بهيرونو کي ونډه اخسته په عادي وختونو کي به تر سلو تنو غونډه کي برخه اخسته خو دروژي مياشت کي به دا تعداد شلو نفرو ته راغلو دخوشحالی ځاي دی چي ختيځ ادبي بهير هم تر ۸۰ زيات او کم غړي لري چي ډيرو يي نن غونډه کي برخه اخستي حال دا چي روژه او ګرمي دواړه يو ځاي دي.

د ارزوني وروسته پريکړه وشوه چي راتلونکي اونی له به محمود خزان په يو نوي چاپ شوي کتاب خبري کوي.

غونډه غرمه ناوخته پاي ته ورسيده

رپورټر: عرفان الله « بيدار »

www.said-afghani.org – بازگشت به صفحه اصلی